سیدعبدالله ولي زی ۲۰۱۰/۷/۱۸

# د کوټوال « د انجنيري فورمولونو قاموس » چاپ شو!

د کتابونو د چاپېدو د زيريو په لړۍ کې نن يوه علمي او ځانګيز کتاب ته وار رسېږي چې د يوه تکړه ځوان ليکوال په مټ او زيار د چاپ په ګاڼه سمبال شوی. هو دغه ځانګيز قاموس «انجنير جاويد کوټوال» ژباړلی او په ډېرو برخو کې يې اړيني زياتوني کړي دي. ياد شوی قاموس د مستقبل خپرندويي ټولنې له خوا چاپ شوی. دغه کتاب د ۴۵۰ پاڼو په شاوخوا کې چاپ شوی او ښکلې رنګه پوښتې لري.




په لومړۍ پوښتې يې «د انجنيري فورمولونو قاموس» ليکل شوی او د هغې لاندې يې ژباړه په انګريزي ژبه ليکل شوې ده. همدا پوښتې د انجنيري وسايلو په انځورونو ښکلې شوې ده. د کتاب په وروستۍ پوښتې کې درمل صاحب د کوټوال په اړه څو کرښې ليکلې چې د پاسه پرې د کوټوال صاحب انځور اېښودل شوی.

د انجنيري ځانګې پوهان دغه قاموس د برقي انجنيرۍ، سيول انجنيرۍ، ميخانيک انجنيرۍ، کيميا او هوا ايستنې په برخه کې ګټور لاسوند ګڼي او زياتوي چې د انجنيرۍ پوهنځي برسېره د اقتصاد او ساينس پوهنځي محصلين هم ترې ګټه اخيستلی شي.

دا چې زه د دې برخې ځانګپوه نه يم نو ځکه خپل نظر يې په منځپانګه نه شم ورکولی خو د علمي او ځانګيز کتابونه چاپېدل د پښتو ژبې د بډاينې لپاره اړين بولم او د قلم له ټولو ښتنتانو ښځه غواړم تر څو خپل قلم د پښتو علمي-ځانګيز کتابونو ته وقف کړي تر څو د پښتو ژبې د علمي پانګې لمن پرې ډکه شي.

تاسو کولای شئ دغه قاموس د مستقبل خپرندويي ټولنې له کتابتونونو څخه ترلاسه کړئ، او که غواړئ د قاموس په اړه خپلې اړيني لارښووني، نيوکې او وړانديزونه له کوټوال سره شريکې کړئ، په لاندې برېښناليک ورسره اړيکه ټينګه کړئ.

jawed.kootwal@gmail.com

زه د ياد شوي قاموس د چاپېدو له امله خپل ګران ملګري جاويد کوټوال او ټول افغان ولس ته د زړه له تله مبارکي وړاندې کوم او لوی څښتن څخه غواړم چې د دغه ځوان ليکوال استعداد نور هم پياوړی شي او خپل قلم د تل لپاره د علمي ځانګيزو کتابونو لپاره وقف کړي.

*************

د برېښنا پاڼو درنو چلونکو په دو هيله چې دغه زيری تاسو له خپلو لوستونکو سره شريک کړئ. مننه

په درنښت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ